عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۱۱/۰۲

# د پاکیستان نګران لومړی وزیر ښاغلی انوارالحق خان،

روغ اوسې!

یوه ویډیو مې دې وکتله، حیران شوم. د روایتي تاریخ څه بې بنسټه کیسه دې کوله، چې ګواکې تاسو چا خرڅ کړي یاست... او یا په کراچۍ کې تر کابل و پېښور و کوټې ډېر پښتانه ژوند کوي...

ښاغلیه،

له وینا دې ښکارېده، چې انګریزي دې زده ده، په انګریزۍ ژبه کې ګڼ داسې اکاډمیک کتابونه شته او دا درزده کولای شې، چې علمي تاریخ لیکنه څه ده؟ څنګه باید له تاریخي پېښو سره هوښیار چلند وکړو؟ او څنګه یې له تاریخه زده کړو؟

پر علمي بنسټونو ولاړې دا څو لارښوونې واوره:

**لومړی:**

د تاریخي افغانستان خاوره بېرته راخېلول او ډیورند ړنګول، د افغان ولس (ملت) غوښتنه ده، افغان ولس تاسو خرڅ کړي نه یاست، بلکې که د خاورې بېلېدو هوکړې پر مجبورو، ناروغو او ګواښ لاندې امیرانو تپل شوي وي، په دې کې نه د ملت اراده شامله ده، نه یې هغو مستبدو امیرانو استازولي کوله او نه هم هغه مستبد امیران په تاریخ کې له دې ملامتی خلاص شوي دي. د خاورې بېلتون و پیوستون د ولسونو صلاحیت دی، نه د واکمنو. دا جبر هغه ښکېلاکي ځواک پر افغان امیرانو په زوره تپلی، چې ته یې اوس هم (ولایت) بولې او جوړ کړی قانون یې اوس هم تاته تر هرڅه مقدس دی.

**دویم:**

ګندمک څنګه وتپل شو؟

امیرشېرعلي خان د خپل هېواد د ژغورلو لپاره په منډو رامنډو کې د ۱۸۷۹ زېږدي د فبرورۍ پر ۲۱ مه زارمچاودی شو. زوی یې محمد یعقوب خان اووه کاله د بالاحصار په زندان کې ربړول شوی و، یو ناروغ، وېرېدلی، له رواني ناروغۍ کړېدلی بې ارادي بنیادم چې انګریزانو ته په لاس ورغی، ګندمک هوکړه یې پرې لاسلیک کړه، په دې کې د افغان ولس کومه اراده ګورئ، چې تاسو به یې خرڅ کړي یاست؟

**درېیم:**

ډیورند څنګه وتپل شو؟

امیرعبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ کې واکمن شو، په کابل کې یې د ناستې ځای نه و، پاچایي یې له یوه کرایي کوره پیل کړه .ده د افغانستان نوی اداره جوړه کړه، وطن یې یو لاس کړ، خو د استبداد و شکنجو په زور. دغه مستبد واکمن د انګریز ضد پاڅون ملي مشران یا ووژل یا یې له وطنه وشړل. ډیورند په داسې یوه پاچا وتپل شو، چې د خپل ولس له سرونو څخه یې لسګونه کله منارونه جوړ کړي دي. لسګونه زره افغانان یې وژلي او یا یې په تورو څاه ګانو او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زندانونو کې ربړولي دي. هغه پر خلکو داسې ورځې راوستې، چې خرڅېدل پرې شرف لري. تاسو څنګه يو لوی ملت د داسې يوه امير په کړنه ګرموئ، چې پر هغو يې ژوند دوزخ ګرځولی و؟
تاسو د تاريخ د هماغې دورې ټول جبرونه، ځواک، حالت او شرايط پېژندلي دي؟

ولس له هماغه پيله هغه اميران غندلي او په تاريخ کې يې په تورو نومونو ثبت کړي، چې د وطن د تجزيې تور يې له نومونو سره تړل شوی دی. ولس په هېڅ يوه تور ببلوونکي تړون کې ګرم نه دی. هيڅ‌ا يې رايه نه وه غوښتې، هيڅ‌ا يې نظر پوښتلی نه وو.

## ځلورم:

د نړۍ لويو زبرځواکونو جرمني هم وېشلې وه. ډېورند خو لا فرضي کرښه ده، چې پر هوکړه‌ليک يې د افغانستان امير نه مهر شته نه لاسليک، د جرمني په زړه (برلين) کې يې د ډېرو ديوال پورته کړی و او پر سر يې برېښنايي لوڅ مزي تېر شوي و دغه ديوال يې وسپنيزه پرده ګڼله. خو جرمن ملت دا ويش نه و منلی، چې وخت يې راغی او ملت اراده وکړه، هغه د شرم تاريخي ديوال يې دوړه کړ. په ۱۹۸۹ کال کې چې جرمنانو دغه ديوال نړاوه، هيڅ‌ا داسې ونه ويل، چې موږ هېټلر خرڅ کړي و يا فردريش ويلهلم پيک (د ختيزې جرمني لومړنی واکمن، چې د روسانو له سره لښکر سره برلين ته راغی او واکمن شو) پلورلي وو.

دا چې هېټلر، پيک، امريکا، شوروي او انګريز هرڅه کړي وو، بېله خبره وه، خو جرمن ملت غوښتل سره يو شي**!** بيا نو تاريخ ستاسو تر مخ دی.

## پينځم:

ښاغلی لومړی وزير**!**

دا څه مانا، چې په کراچۍ کې تر پېښور او کويټې او يا کابل پښتانه ډېر دي؟ هسې خو موږ په ميليونونو پښتانه په هيندوستان کې هم لرو. دلته کيسه يوازې د پښتنو نه ده. کيسه د افغان او افغانستان ده. تاريخي افغانستان د ملتپالنې پر بنسټ جوړېږي، نه پر دې بدلېدونکيو سرشمېرنو، چې پښتانه نن چېرته څومره دي؟

## شپږم:

هو ريښتيا، دې ته هم خواشينی يم، چې د افغانځوروني او د تاريخ د تر ټولو تورې کډوالړبړوني کرغېړن تاريخي شرم يې هم ستا په لمن داغ کړ. د خپل مصنوعي هېواد تاريخ وګوره**!** هېڅ ټاکل شوي (**!**) واکوال دې لا خپله دوره بشپړه کړې نه ده، ته خو لا لنډمهالی سرپرست يې. څرګنده نه ده، چې څه به درپېښ شي؟ يا به د خپل لومړني سلف لياقت‌علي خان غوندې د کوم پښتون ځوان په تومانچه ووژل شې، يا به لکه ذوالفقار علي بوټو اعدام شې، يا به لکه جنرال ضياءالحق په الوتکه کې والوځې، يا به لکه مېرمن بې‌نظيره په سر وويشتل شې، يا به د نواز شريف غوندې تبعيد او يا هم عمران خان غوندې د زندان مېلمه شې. دا واک به در پاتې نه شي، خو د خپل ولس په تاريخ کې به په کوم نوم ياد شې؟ دا مهمه ده. ستا د سرپرستۍ پر مهال افغان ملت يو لوی ټکان وليد، راويښ شو، ته او ستا استخباراتي نظام يې لا ښه وپېژاند.

د يوه ملت د يووالي، ارادې، عزم او پاڅون لپاره دغه درد و زخم چې تا ورکړ، بېخي بس دي. نور به وړاندې کتل کيږي، چې څه پېښيږي.

لوی تاريخي افغانستان د ملت داعيه ده او دا داعيه ژوندی ده، ځکه ملت ژوندی دي .ډېرو يې د وژلو ارمان خاورو ته وړی دی. ډېرو د دې ولس د خرڅولو هڅه کړې ده، خو ولس هيڅکله او هيڅېرته نه خرڅيږي. د بشريت ټول تاريخ وګورئ**!** ولس خرڅېدلای نه شي .خو د دې ملت ټول هغه تور مخونه په ياد دي، چې د واک و ځواک لپاره يې ځانونه خرڅ کړي دي .خواشينی يم، چې په داسې يو دريځ کې دې وينم.

ځان سره پام کوه.
د خدای دې ښه وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ